د افغانستان اسلامي امارت

د ارشـــــاد، حـــــج او اوقافـــــو وزارت

د مساجدو او حُسَينيو د ارشاد او انسجام لوی رياست

د جمعې ورځی د خطابت موضوع او

ليکلی تقرير اوبيان چی د هيواد دمرکز او ولاياتو

ټولو خطيبانو ته په دواړو ملي ژبو (پښتو او دري) کې ليږل کيږي

---

۲۱/ جمادی الثانية/۱۴۴۷ هـ، ق مطابق ۲۱/ قوس/۱۴۰۴هـ، ش

# هغه اعمال چې د مشکلاتو د راتلو، په تيره بيا د اُورښتونو د بنديدلو لامل او باعث گرځي

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

الحمد لله الذي أعزنا بالإسلام، وأكرمنا بالقرآن، والصلاة والسلام على خير الأنام، سيدنا محمد وعلى آله وصحبه أجمعين، أما بعد:

قال الله سبحانه وتعالى:( وَاللَّهُ الَّذِي أَرْسَلَ الرِّيَاحَ فَتُثِيرُ سَحَاباً فَسُقْنَاهُ إِلَى بَلَدٍ مَيِّتٍ فَأَحْيَيْنَا بِهِ الْأَرْضَ بَعْدَ مَوْتِهَا كَذَلِكَ النُّشُورُ).فاطر:(۹)

**قدرمنو حاضرينو او درنو اوريدونکو!**

**السلام عليکم ورحمة الله وبرکاته.**

د اوبو د اهميت په باره کې الله تعالی فرمايلي دي:( وَجَعَلْنَا مِنَ الْمَاءِ كُلَّ شَيْءٍ حَيٍّ أَفَلَا يُؤْمِنُونَ)الأنبياء: (۳۰)

د حسن بصري رحمه الله څخه د دې آيت د تفسير په اړه نقل دي چې هغه به ويل:( خلق كل شيء من الماء وهو حياة كل شيء).الدر المنثور (۵/ ٦٢٦)

ژباړه: ټول شيان له اوبو څخه پيدا شوي دي او اوبه د هرڅه ژوندون دی.

د اوبو اساسي سرچينه اُورښتونه او بارانونه دي. که چيرې اُورښتونه نه وي ، نو د ځمکې په سر به وچکالي ، قحطي او ډول ډول مشکلات وي.

کامل ايمان او نيک اعمال ډيری فائدې لري ،چې د هغې له جملې څخه د بارانونو او اُورښتونو وريدل دي لکه چې الله جل جلاله فرمايلي دي:(وَلَوْ أَنَّ أَهْلَ الْقُرَى آمَنُوا وَاتَّقَوْا لَفَتَحْنَا عَلَيْهِمْ بَرَكَاتٍ مِنَ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ وَلَكِنْ كَذَّبُوا فَأَخَذْنَاهُمْ بِمَا كَانُوا يَكْسِبُونَ). الأعراف: (۹٦)

ترجمه:او که خلقو د دې کليو (ښارونو ) ايمان راوړی وی او تقوی يې غوره کړې وی نو خامخا پرانيستلي به وي مونږ پر دوی باندې دروازې د برکتونو له لوري د آسمان دباران په اورولو او له لوري د ځمکې په زرغونولو د محصولاتو وليکن نسبت د دروغو وکړ دوی انبياوو ته نو ونيول مونږ هغوی په سبب د هغو چې وو دوی چې کول به يې د کفر او معاصيو څخه.

امام ابواليث سمرقندي رحمه الله د دې آيت په تفسير کې وايې که چيرې د کلي خلکو توحيد غوره کړی وای او له شرک يې ځان ساتلی وای ، نو مونږ به ور باندې د اسمان څخه باران او رزق نازل کړی وای او له ځمکې څخه به مو ورته نباتات زرغون کړي وای، مگر دوی پيغمبران دروغجن وگڼل ،نو مونږ دوی ته عذاب ورکړ په سبب د شرک .په دې آيت کې دليل دی، چې کفايت او پراخي په رزق کې سعادت دی د هغه چا لپاره چې شاکر وي او پراخي د رزق عذاب دی د هغه چا لپاره چې شاکر نه وي. بحر العلوم ـ موافق للمطبوع (١/ ٥٤٩)

په يو بل مبارک آيت کې راځي چې (وَلَوْ أَنَّهُمْ أَقَامُوا التَّوْرَاةَ وَالأِنْجِيلَ وَمَا أُنْزِلَ إِلَيْهِمْ مِنْ رَبِّهِمْ لأَكَلُوا مِنْ فَوْقِهِمْ وَمِنْ تَحْتِ أَرْجُلِهِمْ) المائدة:(٦٦)

ترجمه: او که بېشکه دوی درولی وی (احکام د) تورات او انجيل (د احکامو په تعميل سره يې )او هغه کتاب چې نازل کړی شوي دي دوی ته له جانبه د رب د دوی د محمد صلى الله عليه وسلم په وسيله نو خامخا خوړلې به يې مېوې له پاسه د سرونو خپلو او غلې له لاندې د پښو خپلو د ځمکې نه.

امام ابو الليث رحمه الله ددې آيت په تفسير کې ليکلي دي:( لأكلوا من فوقهم) يعنې الله تعالى له بره نه ورباندې باران ورولی وای په هغه وخت کې چې دوی ته گټه رسـولی باران( ومن تحت أرجلهم) يعنې ځمکې به ورته نباتات زرغون کړی وی . امام زجاج وايې چې ددې څخه مراد داخبره ده چې دوی به په راحت او د رزق په توسعه کې وای يعنې چې که چيرې دوی هغه کار کړی وای چې د هغه په اړه ورته امر شـوی ؤ ، نو دوی ته به خير له پاسـه هم راتللی او د پښو له خوا به هم ورته خير راتللی او دوی به په خوشحالی کې ؤ. بحر العلوم ـ موافق للمطبوع (١/ ٤٢٨)

که چيرې موجوده حالاتو ته وگورو ،نو نړۍ کې مخصوصاً مسلمانان د زياتو مشکلاتو ، په تيره بيا د أورښتونو د بنديدلو سره مخ دي چې د نړۍ يې او مسلمانان يې د مختلفو گواښونو سره مخ کړي دي، ځکه چې د بارانونو د بنديدلو سره فصلونه نه را زرغونيږي او چې فصلونه زرغون نشي، نو غله دانې به کمې شي، ميوه جات به ورک او يا کم شي، د ځمکې په سر به شنې ساحې په سوزانده دښتو تبديل شي او نړۍ بالخصوص اسلامي نړۍ به د قحطۍ سره مخ شي،د انسانانو، څارويو او ژوندي ژوو ژوند به د مرگ له گواښ سره مخ شي او امکان لري چې نړۍ د لوی ناورين سره مخ شي.

همداراز که چيرې بارانونو همداسې بند شي ، نو د ځمکې د سطحې او د ځمکې د باطني اوبه به کمې شي، چې په نتيجه کې څاه گانې به وچې شي، نهرونه به وچ شي، بحرونه به د شمال قطبي د واورو کنگلونو د ويلې کيدو له امله طغيانې شي او ددې ويره شته چې ځينې ښارونه د لويو بحرونو د څپور لاندې شي.

د بارانونو د بنديدل د مسلمانانو لپاره د ويرې خبره ده ځکه د اورښتونو بنديدل د خير علامه نه ده او د شر علامه ده او الله تعالى د شر او تنبيه علامات هغه وخت را ښکاره کوي چې کله د هغه د اوامرو مخالفت په ځمکه کې زيات شي. الله تعالى فرمايلي دي: (وَمَا نُرْسِلُ بِالآيَاتِ إِلَّا تَخْوِيفًا) الإسراء: (٥٩) ترجمه:او نه لېږو مونږ دغه فرمايشي معجزې مگر لپاره د ويرولو.

نو مونږ ته په کار دي چې د خپلو اعمالو باندې بيا کتنه وکړو.

د اُوربښتونو بنديدل او د اوبو د ځمکې په سطحه کې ښکته تلل، وچکالي ، د ميوو او غله دانو کمبود او د څارويو او حيواناتو ولګه او تنده چې کله مؤمنانو ته ورسيږي ، نو دا يو ډول تنبيه ده او ازميښت دی او د الله تعالی ددين څخه سرکشانو او ګناهګارانو لپاره عقوبت او عذاب دی. (وَاتَّقُوا فِتْنَةً لَا تُصِيبَنَّ الَّذِينَ ظَلَمُوا مِنْكُمْ خَاصَّةً وَاعْلَمُوا أَنَّ اللهَ شَدِيدُ العِقَابِ). الأنفال:(٢٥)

ترجمه: او ځان ساتئ تاسې له هغې فتنې فساد ګناه څخه چې نه رسېږي عقوبت يې يواځې همغو کسانو ته چې ظلم يې کړی وي په کولو د ګناه سره له تاسې څنې خاص او يواځې بلکه عمومي به وي او پوه شئ چې بېشکه الله سخت دی عذاب د ده مخالفانو ته په دنيا او عقبا کې.

او ددې الهي تنبيه او خبرداري ځينې اسباب دي چې د هغو اسبابو په وجه داسې رباني تنبيه ګانې او عذابونه په مسلمانانو نازليږي. الله تعالی فرمايلي دي: (وَمَا كَانَ رَبُّكَ لِيُهْلِكَ القُرَى بِظُلْمٍ وَأَهْلُهَا مُصْلِحُونَ).هود:(١١٧)

ترجمه: او له سره نه دی رب ستا اراده کوونکی د دې چې هلاک کړي اهل د قريو په ظلم او کفر سره حال دا چې وي اهل د دغو قريو نېکان اصلاح را وستونکي مصلحان.

په يو بل مبارک آيت کې راځي: (وَمَا كُنَّا مُهْلِكِي القُرَى إِلَّا وَأَهْلُهَا ظَالِمُونَ).القصص:(٥٩)

ترجمه: او نه يو مونږ هلاک کوونکی خرابوونکي د کليو د ښارونو مګر په هغه وخت کې چې اهل د هغو ظالمان وي په تکذيب د رسولانو.

په يو بل مبارک آيت کې راځي: (وَمَا أَصَابَكُمْ مِنْ مُصِيبَةٍ فَبِمَا كَسَبَتْ أَيْدِيكُمْ).الشُّورى:(٣٠)

ترجمه: او هغه څه چې رسيږي تاسې ته ای مؤمنانو له کوم مصيبت پس له (شامته )د هغو اعمالو دي چې کړي دي لاسونو ستاسې او عفوه کوي الله له ډېرو ګناهونو.

په ځانګړې توګه د اُوربښتونو د بنديدلو په هکله الله تعالی فرمايي، چې د اُوربښتونو دبنديدلو مشکل د بندګانو د کامل ايمان د نه شتون او د بنده ګانو په اعمالو کې د تقصير په وجه راځي، لکه چې الله تعالی فرمايلي دي: (وَلَوْ أَنَّ أَهْلَ القُرَى آَمَنُوا وَاتَّقَوْا لَفَتَحْنَا عَلَيْهِمْ بَرَكَاتٍ مِنَ السَّمَاءِ وَالأَرْضِ وَلَكِنْ كَذَّبُوا فَأَخَذْنَاهُمْ بِمَا كَانُوا يَكْسِبُونَ) .الأعراف:(٩٦)

ترجمه: او که خلقو د دې کليو ښارونو ايمان راوړی وی او تقوی يې غوره کړې وی نو خامخا پرانيستلي به وی مونږ پر دوی باندې دروازې د برکتونو له لوري د آسمانه د باران په اورولو او له لوري د ځمکې په زرغونولو د محصولاتو وليکن نسبت د دروغو وکړ دوی انبياوو ته نو ونيول مونږ هغوی په سبب د هغو چې وو دوی چې کول به يې د کفر معاصيو څخه

چې د آسمان برکات هغه د اُوربښتونو او بارانونو وريدل دي او د ځمکې برکات هغه په ځمکه کې د زراعت او ونو زرغونيدل دي او ځمکي شينکی دی .

**هغه اعمال چې د مشکلاتو د راتلو او د اُوربښتونو د بندیدلو لامل او باعث ګرځي:**

د مسلمان په خیر او شر کې د هغه اعمال رغنده رول لري ، ددې وجې نه د مسلمانانو ځینې اعمال د مشکلاتو د راتلو او د اُوربښتونو د بندیدلو لامل ګرځي ، چې ځینې یې په لاندې ډول دي:

**۱-تکبر او لویې کول** : د الله تعالی په ځمکه کې د الله تعالی په مخلوق باندې تکبُّر او لویې کول د مشکلاتو د راتلو او د أُوربښتونو د بندیدلو لامل ګرځي. د الله تعالی پر مخلوق او انسـانانو باندې په مال سره لویې کول، په مقام او منصـب باندې لویې کول د مشکلاتو د راتلو او د أُوربښتونو د بندیدو لامل او باعث ګرځي، ځکه چې أُوربښتونه نه نازلیږي ؛ مګر د تضرع او عاجزی په ښکاره کولو سره. الله تعالی فرمایلي دي:( وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا إِلَى أُمَمٍ مِنْ قَبْلِكَ فَأَخَذْنَاهُمْ بِالْبَأْسَاءِ وَالضَّرَّاءِ لَعَلَّهُمْ يَتَضَرَّعُونَ * فَلَوْلَا إِذْ جَاءَهُمْ بَأْسُنَا تَضَرَّعُوا وَلَكِنْ قَسَتْ قُلُوبُهُمْ وَزَيَّنَ لَهُمُ الشَّيْطَانُ مَا كَانُوا يَعْمَلُونَ). الأنعام:(۴۲-۴۳)

ترجمه: او خامخا په تحقیق استولي وو مونږ رسولان ډیرو امتونو ته پخوا له تا نه ای محمد! پس دوی تکذیب وکړ د هغوی نو ونیول مونږ دوی په سـختیو او تکلیفونو سره لپاره د دې چې دوی زاري عاجزي وکړي خپل رب ته او مؤمنان شي کله چې راغی دوی ته عذاب زمونږ نو ولې عاجزي ونه کړه دوی چې ترې لرې شوی وی عذاب او لیکن سخت شوی وو زړونه د دوی نو ځکه یې ترې عبرت وانخیست او ښایسته کړي وه دوی ته شیطان هغه کارونه چې وو دوی چې کول به یې .

تکبر او په خلکو ځان غټ ګڼل د نعمتونو د زوال سبب دی او باران د الله تعالی رحمت دی ، لکه چې الله تعالی فرمایلي دي:

(وَهُوَ الَّذِي يُنَزِّلُ الْغَيْثَ مِنْ بَعْدِ مَا قَنَطُوا وَيَنْشُرُ رَحْمَتَهُ وَهُوَ الْوَلِيُّ الْحَمِيدُ) الشوری:(۲۸)

ترجمه: او هغه لوی ذات دی چې نازولوي باران وروسته له هغه چې نااميده شي خلق له اوربدلو یې او خوروي رحمت باران خپل په ټولو ځایونو کې او همدی دی ولي دوست کار جوړونکی ډیر ثنا ویلی شوی.

په یو حدیث شریف کې راځي:عن سَلَمَةَ بْنِ الأَكْوَعِ قال أَنَّ رَجُلاً أَكَلَ عِنْدَ رَسُولِ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- بِشِمَالِهِ فَقَالَ « كُلْ بِيَمِينِكَ ». قَالَ لاَ أَسْتَطِيعُ قَالَ « لاَ اسْتَطَعْتَ ». مَا مَنَعَهُ إِلاَّ الْكِبْرُ. قَالَ فَمَا رَفَعَهَا إِلَى فِيهِ. صحيح مسلم (٦/ ١٠٩)

ژباړه: د سلمه بن الاکوع رضي الله عنه څخه روایت دی ، هغه وایي چې بیشکه یو سړي خوراک کولو د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره په چپ لاس باندې . نبي علیه السلام ورته وفرمایل: په ښي لاس خوراک وکړه. هغه سړي وویل چې زه په ښي لاس خوراک نشم کولای. نبي علیه السلام ورته وفرمایل: وبه نشی کړی(ددې څخه وروسته) خوراک په ښي لاس. نه ؤ منع کړی دغه سړي لره په ښي لاس د خوراک کولو څخه مګر کبر. حضرت سلمه بن الاکوع رضي الله عنه وایې چې بیا پورته نکړ هغه سړي خپل لاس خپلې خولې ته.

کله چې رسول الله صلی الله علیه وسلم استسقاء ته وتلو ، نو عبدالله بن عباس رضي الله عنهما فرمایې:(خَرَجَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - مُتَوَاضِعًا مُتَبَذِّلًا مُتَخَشِّعًا مُتَرَسِّلًا مُتَضَرِّعًا). السنن الكبرى للنسائي (٢/ ٣٢٣)،سنن ابن ماجه ت الأرنؤوط (٢/ ٣١٦)

ژباړه: ووتلو رسول الله صلی الله علیه وسلم (استسقاء ته) د تواضع په حالت کې ووتلو، په ساده جامو کې ووتلو ، د خشوع په حالت کې ووتلو، په لاره په ارامه تلونکی ؤ، د عاجزی په حالت کې ووتلو.

تکبر او لويې کول د تيرو امتونو د هلاک سبب ؤ او د أورښتونو په بنديدلو سره هم انسانان، حيوانات، نباتات تباه کيږي.

نوح عليه السلام وايې:(وَإِنِّي كُلَّمَا دَعَوْتُهُمْ لِتَغْفِرَ لَهُمْ جَعَلُوا أَصَابِعَهُمْ فِي آذَانِهِمْ وَاسْتَغْشَوْا ثِيَابَهُمْ وَأَصَرُّوا وَاسْتَكْبَرُوا اسْتِكْبَارًا).نوح:(٧)

ترجمه: او بېشکه زه هر کله چې وبولم دوی توحيد او اطاعت ته د دې لپاره چې وبښې ته دوی نو ننباسي دوی گوتې خپلې په غوږونو خپلو کې چې زما دعوت وانه وري او چاپېره کړي يې وو ځانونه خپل په جامو خپلو (لپاره د دې چې ما ونه ويني) او هميشه والی کوي (په کفر خپل) او سرکشي کوي (متابعه زما) په سرکشي کولو سره.

د عاديانو د هلاکت سبب هم تکبر او لويې کول ؤ لکه چې الله تعالی فرمايلي دي (فَأَمَّا عَادٌ فَاسْتَكْبَرُوا فِي الْأَرْضِ بِغَيْرِ الْحَقِّ وَقَالُوا مَنْ أَشَدُّ مِنَّا قُوَّةً أَوَلَمْ يَرَوْا أَنَّ اللَّهَ الَّذِي خَلَقَهُمْ هُوَ أَشَدُّ مِنْهُمْ قُوَّةً وَكَانُوا بِآيَاتِنَا يَجْحَدُونَ * فَأَرْسَلْنَا عَلَيْهِمْ رِيحًا صَرْصَرًا فِي أَيَّامٍ نَحِسَاتٍ لِنُذِيقَهُمْ عَذَابَ الْخِزْيِ فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَلَعَذَابُ الْآخِرَةِ أَخْزَى وَهُمْ لَا يُنْصَرُونَ).فصلت:(١٥ـ١٦)

ترجمه: پس هر چې عاديان وو پس کبر لويي غوره کړه په ځمکه کې په ناحقه سره او وويل دوی څوک دي زيات سخت له مونږ ځنې په قوت کې آيا نه ويني او نه پوهيدل دوی چې بېشکه الله هغه ذات چې پيدا کړي يې دي دوی هغه ډېر سخت دی له دوی نه په قوت زور کې او دوی وو په دلائلو زمونږ چې انکار به يې کوو سره له علمه په دې باندې چې هغه حق دی.پس راومو لېږه پر دوی باندې باد يخ ډېر زورور هيبتناک په څو ورځو کې چې ډېرې نحسې شومې وې لپاره د دې چې و څکوو مونږ پر دغو کفارو عذاب رسوا کوونکی په دغه ژوندون لږ خسيس کې.

همدارنگه ثموديان هم د تکبر او لويې په وجه هلاک شوي ؤ. لکه چې الله تعالی فرمايي:(قَالَ الْمَلَأُ الَّذِينَ اسْتَكْبَرُوا مِنْ قَوْمِهِ لِلَّذِينَ اسْتُضْعِفُوا لِمَنْ آمَنَ مِنْهُمْ أَتَعْلَمُونَ أَنَّ صَالِحًا مُرْسَلٌ مِنْ رَبِّهِ قَالُوا إِنَّا بِمَا أُرْسِلَ بِهِ مُؤْمِنُونَ * قَالَ الَّذِينَ اسْتَكْبَرُوا إِنَّا بِالَّذِي آمَنْتُمْ بِهِ كَافِرُونَ) الاعراف:(٧٥-٧٦)

ترجمه: وويل مشرانو هغو چې کبر او سرکشي يې کړې وه له ايمانه له قومه د دغه صالح څخه هغو کسانو ته چې ضعيف او کمزوري گڼلي شوي وو هغه چاته چې ايمان يې راوړی وو له دوی څخه آيا يقين لرئ تاسې په دې چې بېشکه صالح مرسل رالېږلی شوی دی تاسې ته له لوري د رب د ده وويل دغو ضعفاوو چې هو بېشکه مونږ په هغه توحيد او عبادت چې راليږلی شوی دی صالح په هغه مؤمنان يقين لرونکي يو وويل هغو کسانو چې لويي تکبر يې کړی وو بېشکه مونږه په هغه شي چې ايمان راوړی دی تاسې په هغه باندې کافران منکران يو.

**٢-د گناهونو او معصيتونه زياتوالی:**

د الله جل جلاله د اوامرو څخه مخالفت، گناهونه او معصيتونه د مشکلاتو او د أورښتونو د بنديدلو لامل گرځي، ځکه چې گناهونه د الله تعالی د غضب او عذاب سبب گرځي او د أورښتونو بنديدل هم د الله تعالی د غضب او عذاب برخه ده. لاندې آيتونه ددې دليل دی چې هر مشکل چې انسان ته رسيږي هغه دده د اعمالو په وجه ده ته رسيږي.

الله جل جلاله فرمايلي دي:( وَمَا أَصَابَكُمْ مِنْ مُصِيبَةٍ فَبِمَا كَسَبَتْ أَيْدِيكُمْ وَيَعْفُو عَنْ كَثِيرٍ).الشورى:(٣٠) ترجمه:او هغه څه چې رسيږي تاسې ته اى مؤمنانو له كوم مصيبت پس له شامته د هغو اعمالو دي چې كړي دي لاسونو ستاسې او عفوه كوي الله له ډيرو گناهونو.

په يو بل آيت كې الله تعالى فرمايلي دي چې د وچې او بحر فساد د خلكو د ناوړه اعمالو په وجه راځي:(ظَهَرَ الْفَسَادُ فِي الْبَرِّ وَالْبَحْرِ بِمَا كَسَبَتْ أَيْدِي النَّاسِ لِيُذِيقَهُمْ بَعْضَ الَّذِي عَمِلُوا لَعَلَّهُمْ يَرْجِعُونَ).الروم:(٤١)

ترجمه:ظاهر شو آثار د فساد په بر او بحر په وچه او لونده كې په سبب د هغې گناه او شرک چې كړي دي لاسونو د خلقو لپاره د دې چې و څكوي الله دوى ته څه سزا د هغو عملونو چې كړي دي دوى لپاره د دې چې واوړي دوى له دغو بديو نه.

په يو بل مبارک آيت كې راځي، چې ولږه او د دښمن ويره د الله تعالى د نعمتونو دكفران په وجه راځي؛ نو د مشكلات او د أُوربښتونو بنديدل هم د الله تعالى د نعمتونو د ناشــكرى په وجه دي .( وَضَرَبَ اللَّهُ مَثَلًا قَرْيَةً كَانَتْ آمِنَةً مُطْمَئِنَّةً يَأْتِيهَا رِزْقُهَا رَغَدًا مِنْ كُلِّ مَكَانٍ فَكَفَرَتْ بِأَنْعُمِ اللَّهِ فَأَذَاقَهَا اللَّهُ لِبَاسَ الْجُوعِ وَالْخَوْفِ بِمَا كَانُوا يَصْنَعُونَ).النحل:(١١٢)

ترجمه: او بيانوي الله مثل د يو كلي چې وو دا په امن كې په آرام او هوسا اهل د دې چې راته دغه كلي ته رزق روزي د اهل د دې ډيره پريمانه له هر ځايه له هره طرفه نو كافر ناشكره شو اهل د هغه په نعمتونو د الله نو وڅكاوه په اهل د دې باندې الله كالي كپړې د لوږې او ويرې چې لوږه او ويره يې پرې لازمه او محيطه و گرځوله لكه جامه په سبب د هغو عملو چې وو دوى چې كول به يې.

په پورتنيو آيتونو كې تير شول چې په مونږ او تاسې هر مشكل راځي او يا اوربښتونه بنديږي ، ټول زمونږ د ناوړه اعمالو په وجه راځي.

حال دادى چې مونږ او تاسې وينو چې خلک څومره د الله تعالى د اوامرو او نواهيو مرتكب كيږي او څومره له دين څخه لرې دي. په اسلامي ملكونو كې طاغوتي نظامونه حاكم دي او دالله تعالى پر كتاب او په شريعت فيصلې نه كيږي او مسلمانان په غم او خوشحالۍ كې د كفارو داعمالو پيروي كوي او د الله تعالى شريعت يې شاته پريښى دى.

عبدالله بن عباس رضي الله عنهما فرمايلي دي:(أَمَرَ اللهُ المؤمنين ألاَّ يُقِرُّوا المنكرَ بين أظهرهم، فيعمَّهم العذاب). تفسير القرطبي (٧/ ٣٩١)

ژباړه: الله تعالى امر كړى دى مؤمنانو ته چې نه دې پريږدي منكر په خپلو منځونو كې كه نه ، نو پر دوى ټولو به عذاب راولي.

الله تعالى فرمايلي دي چې د الله تعالى د اوامرو له مخالفت څخه ځانونه وساتئ كه نه، نو دردناک عذاب به درته ورسيږي چې د أُوربښتونو بنديدل هم يو ډول عذاب دى:( فَلْيَحْذَرِ الَّذِينَ يُخَالِفُونَ عَنْ أَمْرِهِ أَنْ تُصِيبَهُمْ فِتْنَةٌ أَوْ يُصِيبَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ ).النور:(٦٣)

ترجمه:پس و دې ويريږي هغه كسان چې مخالفت كوي له امره حكمه ددغه رسول زما له دې نه چې ورسيږي دوى ته څه فتنه آفت په دنيا كې يا ورسيږي دوى ته عذاب دردناک په آخرت كې.

بل داچې د مشکلاتو زیاتوالی او د أوربښتونو بندیدل د الله تعالی د عدم رضایت نښه ده چې له امله یې د الله تعالی عذاب نازلیږي.
په حدیث شریف کې راځي: عَنْ مُعَاذٍ قَالَ: أَوْصَانِي رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِعَشْرِ كَلِمَاتٍ ...«وَإِيَّاكَ وَالْمَعْصِيَةَ؛ فَإِنَّ بِالْمَعْصِيَةِ حَلَّ سَخَطُ اللَّهِ عَزَّ وَجَلَّ» مسند أحمد مخرجا (٣٦/ ٣٩٢)

ژباړه: د حضرت معاذ بن جبل رضي الله عنه څخه روایت دی ، هغه وایې چې ماته وصیت کړی دی نبي علیه السلام په لسو خبرو باندې...چې د هغې له جملې څخه یوه دا خبره ده چې ځان وساته له ګناه څخه، ځکه په ګناه سره واقع کیږي عذاب دالله تعالی .

نن سبا په اسلامي ټولنو کې د مختلفو مرضونو شکایتونه دي لکه ایډز، تور زیړی، د پوستکو مریضې او نور ساري ناروغي چې هیڅ علاج نلري ددغو مشکلاتو او د اوربښتونو سبب په اسلامي ټولنه کې د زنا زیاتوالی او د الهي حدودو عدم نفاذ دی.

د عبدالله بن عمر رضي الله عنهما په حدیث شریف کې راځي:(لَمْ تَظْهَرِ الْفَاحِشَةُ فِي قَوْمٍ قَطُّ، حَتَّى يُعْلِنُوا بِهَا، إِلَّا فَشَا فِيهِمُ الطَّاعُونُ، وَالْأَوْجَاعُ الَّتِي لَمْ تَكُنْ مَضَتْ فِي أَسْلَافِهِمُ الَّذِينَ مَضَوْا، وَلَمْ يَنْقُصُوا الْمِكْيَالَ وَالْمِيزَانَ، إِلَّا أُخِذُوا بِالسِّنِينَ، وَشِدَّةِ الْمَئُونَةِ، وَجَوْرِ السُّلْطَانِ عَلَيْهِمْ، ).سنن ابن ماجه (٢/ ١٣٣٢)، حلية الأولياء (٨/ ٣٣٤)، مسند البزار (١٢/ ٣١٥)

ژباړه: نه ظاهریږي زنا په یو قوم کې هیڅکله چې زنا علني یې کړي، مګر داچې زیاتیږي په هغوی کې طاعون او داسې مرضونه چې نه به وي تیر شوي د هغوی په مخکنیو خلکو کې چې مخکې تیر شوي دي او هیڅکله به یو قوم نه کموي پیمانه او تول ، مګر داچې نیول کیږي به هغوی په قحطۍ سره او په سخت مشقت باندې او د پاچا په ظلم سره.

عَنْ عَبْدِ اللَّهِ، قَالَ: «إِذَا بُخِسَ الْمِكْيَالُ حُبِسَ الْقَطْرُ ، وَإِذَا كَثُرَ الزِّنَا وَقَعَ الطَّاعُونُ ، وَإِذَا كَثُرَ الْهَرْجُ كَثُرَ الْقَتْلُ» السنن الواردة في الفتن للداني (٣/ ٦٨٩)

ژباړه: د عبدالله بن مسعود رضي الله عنهما څخه روایت دی چې هغه به ویل: کله چې کمه کړل سوه پیمانه ؛ نو بند به کړل شي أوربښت او باران او کله چې زیاته شوه زنا ؛ نو واقع به شي طاعون او کله چې زیات شول بې نظمي ، نو زیات به شي قتل .

همدارنګه کله چې په ټولنه کې ګناهونه په ښکاره ډول کیږي او بیا عذاب راشي ؛ نو ټوله ټولنه د عذاب مستحقه ده.

حضرت عمر بن عبدالعزیز رحمه الله فرمایې: كَانَ يُقَالُ: «إِنَّ اللَّهَ تَبَارَكَ وَتَعَالَى لَا يُعَذِّبُ الْعَامَّةَ بِذَنْبِ الْخَاصَّةِ، وَلَكِنْ إِذَا عُمِلَ الْمُنْكَرُ جِهَارًا، اسْتَحَقُّوا الْعُقُوبَةَ كُلُّهُمْ» موطأ مالك ت عبد الباقي (٢/ ٩٩١)

ژباړه: مخکې به ویل کیدل چې بیشکه الله تعالی عام خلک د خاصو خلکو د ګناه په وجه نه په عذابوي؛ مګر کله چې په منکرات باندې په علني او ښکاره ډول عمل کیږي (او څوک یې مخه نه نیسي) ، نو ټول د عذاب مستحق دي.

امام مجاهد رحمه الله ددې مبارک آیت(وإذا تولى سعى في الأرض ليُفسد فيها ويُهلك الحرث والنسل) په تفسیر کې لیکي:(إذا تولى سعى في الأرض بالعدوان والظلم، فيحبس الله بذلك القطرَ، فيُهلك الحرثَ والنسلَ والله لا يحب الفساد) تفسير الطبري (٤/ ٢٤٠)

ژباړه: کله چې مخ واړوي ستا څخه کوښښ کوي په ځمکه کې په تجاوز او ظلم سره ، نو بیا الله تعالی بند کړي په دې کار سره أوربښت او باران، نو هلاک شي فصلونه او نسلونه او الله تعالی نه خوښوي فساد لره.

امام عکرمه رحمه الله ددې مبارک آیت{أُولَئِكَ يَلْعَنُهُمُ اللَّهُ وَيَلْعَنُهُمُ اللاَّعِنُونَ} په تفسیر کې وایې:(يَلْعَنُهُمْ كُلُّ شَيْءٍ حَتَّى الْخَنَافِسُ وَالْعَقَارِبُ يَقُولُونَ: مُنِعْنَا الْقَطْرُ بِذُنُوبِ بَنِي آدَمَ) تفسير الطبري ط هجر (٢/ ٧٣٤)

ژباړه: لعنت وایې په انسانانو هرشی حتی چې خُنفساګانې او لړمان هم په انسانانو لعنت وایې او داسې وایې منع شوی دی له مونږ څخه أورښت او باران په سبب د ګناهونو د بني آدمو.

همدا راز امام مجاهد رحمه الله وایې:( البهائم تلعن عصاة بني آدم إذا اشتدت السنة، و أمسك المطر، وتقول: هذا بشؤم معصية ابن ادم). تفسير البغوي - إحياء التراث (١/ ١٩٤)، تفسير الثعلبي (٢/ ٣٠)

ژباړه:څاروي لعنت وایې په بني آدمو کله چې وچکالي سخته شي او بند شي أورښت او باران او څاروي وایې: دا په سبب د معصیت د بني آدمو دی.

**٣-پر ځمکه فسادونه کول :** پر ځمکه فسادونه کول د مشکلاتو د راتلو او د أورښتونو د بندیدلو لامل او باعث دی.

په ځمکه د فسادونو کول لکه تزویر، بهتان، رشوت ، غلا او سرقت، دوکه او فریب ټول هغه اعمال دي چې له امله یې په ټولنه کې مشکلات راځي او أورښتونه بندیږي، چې ددغو فسادونو په قطار کې په پیمانه کې او تله کې فریب کول د مشکلاتو د واقع کیدو او د أورښتونو د بندیدلو باعث ګرځي.

د حضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنهما د حديث په یوه برخه کې راځي:( وَلَمْ يَنْقُصُوا الْمِكْيَالَ وَالْمِيزَانَ، إِلَّا أُخِذُوا بِالسِّنِينَ، وَشِدَّةِ الْمَئُونَةِ).سنن ابن ماجه (٢/ ١٣٣٢)

ژباړه: او هیڅکله یو قوم نه کموي پیمانه او تول لره ، مګر داچې نیول کیږي به هغوی په قحطی سره او په سخت مشقت سره.

الله جل جلاله فرمايلي دي چې کله فرعونیانو فسادونه زیات کړل مونږ ورباندې أورښتونه بند کړل.(وَلَقَدْ أَخَذْنَا آلَ فِرْعَونَ بِالسِّنِينَ وَنَقْصٍ مِّن الثَّمَرَاتِ لَعَلَّهُمْ يَذَّكَّرُونَ) الاعراف:(١٣٠)

ژباړه:او خامخا په تحقیق نیولي وو مونږ قوم د فرعون په کلونو د قحطی سره او په نقصان سره د مېوو لپاره د دې چې پند واخلي دی

په یو روایت کې راځي چې د نبي علیه السلام په وخت کې یو یهودي د فرعونیانو د مشکلاتو او نه(٩) ډوله عذابونو د علت پوښتنه له نبي علیه اسلام څخه وکړه ، نبي علیه السلام دغه یهودي ته وفرمایل چې ګناهونه مه کوئ.

عَنْ صَفْوَانَ بْنِ عَسَّالٍ، قَالَ: قَالَ يَهُودِيٌّ لِصَاحِبِهِ: اذْهَبْ بِنَا إِلَى هَذَا النَّبِيِّ فَقَالَ صَاحِبُهُ: لَا تَقُلْ نَبِيٌّ، إِنَّهُ لَوْ سَمِعَكَ كَانَ لَهُ أَرْبَعَةُ أَعْيُنٍ، فَأَتَيَا رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَسَأَلَاهُ عَنْ تِسْعِ آيَاتٍ بَيِّنَاتٍ. فَقَالَ لَهُمْ:«لَا تُشْرِكُوا بِاللَّهِ شَيْئًا، وَلَا تَسْرِقُوا، وَلَا تَزْنُوا، وَلَا تَقْتُلُوا النَّفْسَ الَّتِي حَرَّمَ اللَّهُ إِلَّا بِالحَقِّ، وَلَا تَمْشُوا بِبَرِيءٍ إِلَى ذِي سُلْطَانٍ لِيَقْتُلَهُ، وَلَا تَسْحَرُوا، وَلَا تَأْكُلُوا الرِّبَا، وَلَا تَقْذِفُوا مُحْصَنَةً، وَلَا تُوَلُّوا الفِرَارَ يَوْمَ الزَّحْفِ، وَعَلَيْكُمْ خَاصَّةً اليَهُودَ أَنْ لَا تَعْتَدُوا فِي السَّبْتِ»، قَالَ: فَقَبَّلُوا يَدَيْهِ وَرِجْلَيْهِ. فَقَالَا: نَشْهَدُ أَنَّكَ نَبِيٌّ» وقال الترمذی هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. سنن الترمذي ت شاكر (٥/ ٧٧)

ژباړه: د حضرت صفون بن عسال رضي الله عنه څخه روایت دی ، هغه وايې چې يو يهودي خپل ملګري ته وويل چې مونږ بوزه دغه نبي ته ، هغه ملګري ورته وويل: داسې مه وايه چې (هغه نبي ته) ځکه که چيرې هغه ستا څخه دا خبره واوري ؛ نو د هغه به څلور سترګې شي، نو دواړه نبي عليه السلام ته راغلل؛ هغو دواړو د نبي عليه السلام څخه د هغو نهو(۹) واضحه معجزو (عذابونو) د سبب په اړه د نبي عليه السلام څخه پوښتنه وکړه. نبي عليه السلام ورته وفرمايل: د الله تعالى سره مه شريکوئ هيڅ شی او اسراف مه کوئ او زنا مکوئ او مه وژنئ هغه نفس چې الله تعالى د هغه وژل حرام کړي دي مګر په حق سره، او مه بوځئ بې ګناه انسان پاچا ته چې وه يې وژني او سحر مه کوئ او سود مه خورئ او بهتان مه لګوئ په پاکدامنه ښځه باندې او شا مه اړوئ د تيښتې لپاره د جنګ په ورځ او خاص واجب دي پر تاسو ای يهودو چې تجاوز مه کوئ(د الله تعالى له حکم څخه) په ورځ د شنبې کې (د ماهيانو ښکار مه کوئ)حضرت صفوان رضي الله عنه وايې چې هغو دواړو يهودانو موچې کړل دواړه لاسونه او دواړه پښې د نبي عليه السلام او دواړو وويل مونږ شاهدي وايو چې ته نبی يی.

دا جزا د دوکې او فريب ده او د خلکو د غولولو ده او د خلکو په مالونو او عزتونو باندې د تجاوز کولو سزا ده او کله چې دا ناکاره عملونه په خلکو زيات شي او عام شي بيا د خواصو خلکو نيکي اعمال کول هم د الله تعالى د عذاب مخه نشي نيولای.

په يو حديث شريف کې راځي: عَنْ زَيْنَبَ بِنْتِ جَحْشٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دَخَلَ عَلَيْهَا فَزِعًا يَقُولُ لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللَّهُ وَيْلٌ لِلْعَرَبِ مِنْ شَرٍّ قَدْ اقْتَرَبَ فُتِحَ الْيَوْمَ مِنْ رَدْمِ يَأْجُوجَ وَمَأْجُوجَ مِثْلُ هَذَا وَحَلَّقَ بِإِصْبَعِهِ وَبِالَّتِي تَلِيهَا فَقَالَتْ زَيْنَبُ فَقُلْتُ يَا رَسُولَ اللَّهِ أَنَهْلِكُ وَفِينَا الصَّالِحُونَ قَالَ نَعَمْ إِذَا كَثُرَ الْخَبَثُ» صحيح البخاري ت (۹/ ۱۲۹)

ژباړه: د زينب بنت جحش رضي الله عنها څخه روايت دی هغه وايې چې بيشکه نبي عليه السلام د هغې کور ته داخل شو په داسې حالت کې چې وارخطا ؤ او داسې يې وويل:(لَا إِلَهَ إِلاَّ اللَّهُ وَيْلٌ لِلْعَرَبِ مِنْ شَرٍّ قَدْ اقْتَرَبَ) نشته لائق د عبادت مګر يو الله ته دی، هلاکت دې وي عربو لره د هغه شر څخه چې نږدې شوی دی ، برسيره شوی دی ديوال د يأجوجو او مأجوجو په دې شکل سره او حلقه يې کړه خپله ګوته د هغې ګوتې سره چې ور پسې ده(يعنې غټه ګوته د سبابې ګوتې سره يوځای کړه او يوه حلقه يې ورڅخه جوړه کړه) .يعنې دومره کم سوری پاتې دی چې يأجوج او مأجوج راوتلو ته . زينب رضي الله عنها وايې چې ما ورته وويل: ای د الله رسوله ! آيا مونږ به هم هلاک کيږو حال داچې په مونږ کې به صالحان او نيک عمله خلک وي؟ نبي عليه السلام وفرمايل: هو! تاسو به هم هلاک کيږی ولو که به تاسو کې صالحان موجود وي، کله چې فسق ، فجور او ګناهونه زيات شي.

**۴-د زکات منع کول او نه ورکول:**

بل هغه عمل چې د مشکلاتو د راتلو او د اُورښتونو د بنديدلو لامل ګرځي، هغه د زکات نه ورکول دي د زکات نه ورکول لويه ګناه ده او د زکات په ورکولو سره په مال کې برکت اچول کيږي او مال نه کميږي. د عبدالله بن عمررضي الله عنه د حديث په يوه برخه کې راځي:(وَلَمْ يَمْنَعُوا زَكَاةَ أَمْوَالِهِمْ، إِلَّا مُنِعُوا الْقَطْرَ مِنَ السَّمَاءِ، وَلَوْلَا الْبَهَائِمُ لَمْ يُمْطَرُوا).سنن ابن ماجه (۲/ ۱۳۳۲)

ژباړه:او نه منع کوي دوی زکات د مالونو خپلو ؛ مګر داچې منع کيږي ورڅخه اُورښتونه د اسمان څخه او که چيرې خاطر د څارويو نه وی ، نو هيڅکله به ورباندې اُورښت نه ؤ شوې.

زکات ورکول مال د آفتونو څخه ژغوري. په یو حدیث شریف کې راځي: عن أبى هريرة رضي الله عنه ، عن النبيِّ - صلى الله عليه وسلم ، قَالَ : بَيْنَمَا رَجُلٌ يَمْشِي بِفَلاَةٍ مِنَ الأرْضِ ، فَسَمِعَ صَوْتاً في سَحَابَةٍ ، اسقِ حَدِيقَةَ فُلانٍ ، فَتَنَحَّى ذَلِكَ السَّحَابُ فَأفْرَغَ مَاءهُ في حَرَّةٍ ، فإذَا شَرْجَةٌ مِنْ تِلْكَ الشِّرَاجِ قَدِ اسْتَوْعَبَت ذَلِكَ الماءَ كُلَّهُ ، فَتَتَبَّعَ المَاءَ ، فإذَا رَجُلٌ قَائمٌ في حَدِيقَتِهِ يُحَوِّلُ الماءَ بِمسحَاتِهِ، فَقَالَ لَهُ : يَا عَبْدَ اللهِ، ما اسمُكَ ؟ قال : فُلانٌ للاسم الذي سَمِعَ في السَّحابَةِ ، فقال له : يا عبدَ الله ، لِمَ تَسْألُنِي عَنِ اسْمِي ؟ فَقَالَ : إنِّي سَمِعْتُ صَوتاً في السَّحابِ الَّذِي هَذَا مَاؤُهُ ، يقولُ : اسْقِ حَدِيقَةَ فُلاَنٍ لاسمِكَ ، فَمَا تَصْنَعُ فِيهَا ، فَقَالَ : أمَا إذ قلتَ هَذَا ، فَإنِّي أنْظُرُ إِلَى مَا يَخْرُجُ مِنْهَا ، فَأتَصَدَّقُ بِثُلُثِهِ ، وَآكُلُ أنَا وَعِيَالِي ثُلُثاً ، وَأردُّ فِيهَا ثُلُثَهُ ) رواه مسلم .

ژباړه: د ابو هریره رضي الله عنه څخه روایت دی چې نبي علیه السلام وفرمایل: یو سړی په یوه دښته کې روان ؤ، چې ناڅاپه یې د وریځې څخه یو آواز واوریده چې ویل یې: د فلاني شخص باغ خړوبه کړه ! هغه وریځ د هغه ځایه لاړه او خپلې اوبه یې د تورو تیگو په دښته توی کړی او هغه لختي تولې اوبه په خپل ځان کې ځای کړی هغه سړي د اوبو ځای ولټولو د باغ په لور یې حرکت وکړ(، هغه سړی په دغو اوبو پسې شو ، گوری چې یو سړی په خپل باغ کې ولاړ دی او اوبه په بیلچه سره خپلې باغچې ته اړوي .دغه سړي هغه دهقان ته وویل: ای د الله بنده ستانوم څه دی؟ هغه ورته وویل زما نوم فلانی دی، هغه نوم یی ور ته واخیستلو چې د وریځې څخه یي اوریدلی ؤ . دهقان هغه ته سړي ت وویل: ای دالله بنده نو ته زما څخه زما د نوم په باره کې ولې پوښتنه کوئ؟ هغه ورته دهقان ته وویل: ما یو آواز واوریده له دغه وریځې څخه چې دا یي اوبه دي چې ویل یي: خړوبه کړه فلاني چې ستا نوم دی .ته کوم نیک کار کوئ په دې باغ کې ؟ هغه ورته وویل: اوس چې دې دا وویل، نو زه گورم حاصل ددې باغ ته، دریمه برخه حاصل یي صدقه کوم او زه او زما اولاد یي دویمه برخه خورو او دریمه برخه کې واپس په دې کې کرم.

**۵-د الله تعالی د ذکر څخه مخ اړول:**

څوک چې د الله تعالی د یادولو څخه مخ واړوي ؛ نو هغه به د زیاتو مشـکلاتو سره مخ شي او ژوند به یې تنگ وي لکه چې الله تعالی فرمایلي دي:(وَمَنْ أَعْرَضَ عَنْ ذِكْرِي فَإِنَّ لَهُ مَعِيشَةً ضَنْكًا).طه:(۱۲۴)

ترجمه:او هر چا چې مخ و گرځاوه له ذکره (پنده) زما پس بېشکه ده ته دی معاش ژوند تنگ په دنیا یا سخت عذاب په قبر کې

حافظ ابن کثیر رحمه الله ددې آیت په تفسیر کې لیکي: یعنې ژوندبه یې په دنیا کې تنگ وي او هیڅ اطمینان به نلري او سینه کې به یې تنگوالی وي بلکې سینه به یې د گمراهۍ له امله زیاته تنگه وي، ولو که په ظاهر کې په نعمتونو کې ډوب ښکاري او هغه څه اغوندي او هغه څه خوري او په هغه ځای کې اوسیږي په کوم ځای کې چې یې زړه غواړي ؛ بیشـکه دده په زړه کې تر څو پورې چې خالص یقین او هدایت په کې ځای نکړل شي، تر هغې پورې به په نا ارامی ، حیرانتیا او شک کې وي او تل به په تردد کې وي ، نو دادی هغه تنگه زندگي.تفسیر ابن کثیر / دار الفکر (۳/ ۲۰۶)

**اقول قولي هذا ، استغفر الله لي ولكم و لسائر المسلمين.**